یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

# العقیده

## د زړونو اصلاح د زړه په خبرو

مصنف

ماہر العلوم العقلیہ والنقلیہ الشیخ ابوعمار

عبدالوکیل بن شمس الرحمٰن



ناشر

مدرسہ دار القرآن لاشاعۃ التوحید والسنۃ کوٹھا سعید آباد

Akhtar Afridi

# عظیم الشان خوشخبری

# ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

## دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

## Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



# د کتاب مشخصات :

د کتاب نوم : د زړونو اصلاح د زړه په خبرو

مصنف : ماهر العلوم العقلية والنقلية الشيخ ابوعمار عبدالوكيل بن شمس الرحمن صاحب .

کمپوز : غلام نبی بن دیارخان .

تعداد : ۱۰۰۰

د چاپ : اول

ناشر : مدرسه دارالقرآن کوټها سعید آباد .

د ملاوید ځائے : اسلامی کتب خانه عبدالرحمن پلازه جهانګیره روډ صوابی ۰۳۴۴ ۹۲۱۲۹۲۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔




| نمبر شمار | فهرست | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | خطبة الکتاب | ٤ |
| ۲ | العقیده فی الاشعار | ٥ |
| ۳ | مختصر ضروری سوالونه او جوابونه | ۹ |
| ۴ | فرائض د کلمې طیبې | ۹ |
| ۵ | شرائط دپاره د شهادت | ۱۴ |
| ۶ | نواقض الاسلام | ۱۵ |
| ۷ | ایمان څه ته وائی | ۱۸ |
| ۸ | مطلب د ایمان په الله باندې | ۱۹ |
| ۹ | توحید څه ته وائی | ۲۱ |
| ۱۰ | اقسام د توحید | ۲۱ |
| ۱۱ | فرق په ما بین د توحید د ربوبیت او الوهیت کښې | ۲۲ |
| ۱۲ | ثمرات د ایمان په الله باندې | ۲٤ |
| ۱۳ | د شرک اقسام | ۲٦ |
| ۱۴ | ایمان په ملائکو | ۲۷ |
| ۱۵ | ایمان په کتابونو باندې | ۲۷ |
| ۱۶ | د قرآن کریم متعلق عقیده | ۲۹ |
| ۱۷ | د انبیاء متعلق | ۲۹ |
| ۱۸ | ایمان په آخرت | ۳۳ |
| ۱۹ | ایمان په تقدیر باندې او د تقدیر مراتب | ۳٦ |
| ۲۰ | نور ضروری سوالونه | ۳٦ |
| ۲۱ | کفر څه ته وائی | ٤۰ |
| ۲۲ | د کفر اقسام | ٤۱ |
| ۲۳ | شرک څه ته وائی | ٤۱ |
| ۲۴ | بدعت څه ته وائی | ٤۳ |
| ۲۵ | د الله د حکم سره په بنده څه واجب دی | ٤٤ |


Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



الحمدلله الذی جعل التوحید سببا للفوزان وجعل الشعب والقبائل للعرفان وحقق النجاة علی العقیدة المبرهنة فی القرآن وعلیها ارسل الرسل لهدایة الانس والجان

والصلاة والسلام علی من ارسل الی سائر الانام علی العقائد الملخصة فی الادیان کما قال الله تبارک وتعالی فی القرآن «وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (۲۵ الانبیاء)».

وفسره بما جاء فی قصة عثمان بن عفان من قبل مني الكلمة التي عرضتها على عمي فردها علي فهي له نجاة.

وعلی اله وصحبه الذین سبقت لهم العفو والغفران فی القرآن.

أما بعد فكلنا محتاجون الی تصحیح العقائد فی هذه الازمان والبلدان البعیدة زمانا ومکانا من سید الانس والجان.

فطالعنا القرآن وأحادیث من هو أنسان كل إنسان وتصفحنا کتب اهل العقائد للاتقان فهانا نقدم عقائدنا للمیزان

فخذوها واسطروها فی صدورکم وصدور الصبیان رزقنی ورزقکم الله الجنان واعاذنی واعاذکم الله عن النیران.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



بسم الله الرحمن الرحيم

# العقیده فی الاشعار

رب یسر ولاتعسر وتمم بالخیر ۳:۴۰ ظهر ۷ ذی قعده ۱۴۳۲

عقیده دے په الله کړه مهربان
متبع شه د نبی آخر زمـــــان

د الله صفات بل چاته چه ورنه کړے
د دنـــــیا نه به رخصت شے بے ایمان

یو هستی د پاک رسول پشانے نــشـته
فعل او ترک کښ کامیابی د دوجهان

بل قرآن د پاک الله عظیم احسان دے
پاک د هر قسمه زیاتی او د نقصان

دا صفت د پاک الله غیر مخلوق دے
دروغ وئـــیلی وو جهم بن صفــوان

د الله لیدل ممکن غیر محــال دی
د سپوږمئ پشان به ئے وینی جنتیان

دا لیکل مے وسیله د خپل دیدار کړه
په دنیا کښ سـوزیـدلے په هجـــران

د جریر په روایت کښ دا مذکور دی
د قرآن سره شاهـــد دی صحیحان

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



نه والد دے نه مولود احد صمد دے
نه شبیه ورله څوک شته نه شریــکان

د یمین ساق او وجه نه انکار مه کړه
بلکه څومره چه مذکور دی په قــرآن

په آخر د شپې کښې ټیک دا نازلیګی
د رزقونو د بخښنې کړی اعـــــلان

د تمثیل تشبیه نه پاک مے رب سبحان دے
د تجسیم تعطیل قائل دی نافـــرمان

بلکه وایو زمونږ ایمان دے په صــفاتو
په کوم شان چه مناسب وی د سبحان

استوی باندے ایمان حسب البیان دے
کیف او کم کښې توغل کړی بدعتیان

ملائک د رب عــــباد تابعـداران دی
پاک د هر قسمه عیبونو او د عصیان

رسولان ټول محبوبان الله ته ګران دی
دورے لــوئے ګناه دی معصومــــان

په ایمان کښې فرق نشته ټول نبیان دی
محمد (ص) پدوئی کښې نمر دے د آسمان

کتابونو صحیفو کښې څلور غـــوره
دا توراة انجیل زبور دے بل قــرآن

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


باقي سل وے صحيفے چه هدايت وو
هر كتاب وى په امت عظيم احسان

آخرت باندے ايمان حسب القرآن دے
تناسخ سـره حساب مني هندوان

خير او شر د پاک الله نه ليكل شوي
په انكار ئے چرے نشي مسلمان

په مخلوق كښ غوره روره محمد دے
وروسته دى درجه كښ ټول نبيان

دے امت كښ شرافت د صداقت دے
په صديق عمر پسے دے پاک عثمان

د علي په قرابت كښ هيڅ شک نشته
څلورم دے درجه كښ راروان

د حسين حسن نه زار شم دا ګلان وو
ليكن خيال كړه د ماما ابن سفيان

كه انصار كه مهاجر دى رب ستائيلي
فتح اوګوره ګواه آل عمران

اُمهات المؤمنين مونږ له مثال دے
عائشے ته رب وركړے عظيم شان

رقيه ام كلثوم زينب بنات دى
فاطمے ته رب وركړى وو حسنان

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


د لیکلـــو د اعمالـو کاتـــبان دی
ناست هر وخت وی په اوګو د هر انسان

د نکیر منکر دا سوال او جواب حق دے
عذاب حق دے رونړو نشئ رافضـیان

آخرت کښ به اعــمال تللے کیـږی
وزن حق دے دا اعلان دے د قرآن

پاک نبی به دکوثر په حوض ولاړ وی
وی ساقی به د محشر پدے مـیـــدان

شفاعت باندے ایمان لــــره صاحـبه
چه نصیب دی شفاعت شی په ماګران

خوش نصیبه به جنت کښ همیشه وی
هر بیان په هغے کم دے هـــــر بیان

چه دے زره کښ څه تیریګی ملاویګی
دے سره چه خوشحالئ شی د عــیان

د بدبختو کافــرانو سوزیــدل دی
کړیدل دی جــړیدل دی هر زمان

مؤمنان ګهنګاران به ترے بهر کړی
مهربان دے مهربـــان دے مهربـــان

اے عــیانه مــهربانه پـــاک سبحـــانه
ته ئے معاف کړے نافرمان دے نافرمان

( من قلم الشیخ ابوعمار ۴۳ :۴، ۷ ذی قعده ۳۲ هجری ـــــ ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم )

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


## مختصر ضروري سوالونه او جوابونه :

سوال : اسلام څه ته وائی ؟

جواب : إسلام : أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلا " .

(۱) ګواهی د کلمې د توحید (۲) مونځ کول (۳) زکواة ورکول (۴) روژے نیول د میاشتے د رمضان (۵) حج کول چه د چا ورته طاقت وی .

سوال (۲) کلمه طیبه کښې څو فرض دی ؟

جواب : په « لا اله الا الله محمد الرسول الله »کښې دولس فرض دی .

## اجمال په شعر کښې :

الفاظ معنی یقین صدق دعوة او محبت دے
اخلاص او انقیاد قبول څه کفر په اصـــــنام

☆☆☆

عمل په مقـتضی د کلمے اواستقامت دے
چه یو پدیکښې نه وی دے جنت پده حرام

☆☆☆

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


عبدالعزیز بن باز رحمه الله په مجموع فتاوی کښې فرمائی : بعض اهل علمو د کلمې اته شرطونه ذکر کړی دی او دے دوه شعرونو کښې ئے هغه راجمع کړی دی :

علم یقین واخلاص وصدقک مع
محبة وانقیاد والقبول لها

وزید ثامنها الکفران منک بما
سوی الاله من الاشیاء قد الها

**الاول** : علم په معنی د کلمې چه منافی د جهل سره دا ضروری دے .

**الثانی** : الیقین المنافی للشک ـــ یعنی ددے کلمې د ویونکی به دا یقین وی چه الله لائق د بندګئ دے په حقه باندے .

**الثالث** : الاخلاص ـ او ددے دا مطلب دے چه بنده خپل رب لره عبادت خاص کړی بس کله چه څه شے د الله نه سوی نبی ته یا ولی ته یا ملک ته یا یو درګاه ته یا یو پیری او یا ددینه علاوه بل څه ته منسوب کړی نو دے انسان د الله سره شریک جوړ کړو او دے شرک د کلمې نه د اخلاص هغه صفت اوچت کړو .

**الرابع** : الصدق ـ او ددے مطلب دادے چه دا ویونکے به دے وینا کښې رشتنے وی زړه به ئے ژبے سره برابر وی او ژبه به ئے د زړه سره برابر وی .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


«فإن قالها باللسان فقط وقلبه لم يؤمن بمعناها فإنها لا تنفعه , ويكـون بذلك كافرا كسائر المنافقين .»

کچرے دا کلمه په ژبه صرف وائی او د زړه نه ئے ددے په معنی ایمان نه وی نو دا کلمه دته فائده نه ورکوی اوپدے وجه به دے د عامو منافقانو پشان کافر وی .

( مجموع فتاوی ج ۱ ص۲۳۱ )

**الخامس** : المحبة ـــ ومعناها أن يحب الله عز وجل , فإن قالها وهو لا يحب الله صار كافرا لم يدخل في الإسلام كالمنافقين .

«محبة» مطلب دادے چه ددے ویـونکی بنده : الله سره مینه وی کچرے کلمه وائی لیکن دے د الله سره مینه نه ساتی نو دے کافر دے او اسلام کښں ندے داخل پشان د عامو منافقانو .

او ددے دلیل «قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ الآية , وقوله سبحانه : سورة البقرة الآية ۱٦٥ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ»

**السادس** : «الانقياد لما دلت عليه من المعنى» یعنی دے کلمے چه په کومه معنی دلالت اوکړو نو هغے ته غاړه کیخودل .

حاصل دا چه یواځے د الله بندگی به کوی او د هغے د حقانیت عقیده به ساتی کچرے دا کلمه ئے او وئیله لیکن د یو الله بندگی نه کوی او د شریعت تابع نه دے بلکه د شریعت نه ځان غټ گنړی نو دے مسلمان نشی کیدے لکه ابلیس او د هغه امثال شو .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


**السابع** : «القبول لما دلت علیه» دا کلمه چه په څه دلالت کوی هغه قبلول چه هغه صرف د یو الله بندګی ده او د غیر الله بندګی پریخودل .

**الثامن** : «الکفر بما یعبد من دون الله» کفر کول په هغه الهو چه د الله نه علاوه د هغوئی بندګی شوې وه .

او د غیرالله د بندګۍ نه بیزاره کیدل او د هغې د بطلان عقیده ساتل الله کریم فرمائي «فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ

(۲۵۶البقره ) . ( مجموع فتاوی ص ۲۳۱، ۲۳۲)

ددینه علاوه څلور شرطونه چه هغه هم فرائض دی کلمه کښې هغه هم څه مجموع فتاوی ذکر کړی دی او څه نور علماء .

(۱) الفاظ د کلمې فرض دی .

یو دا چه دا الفاظ صحیح کول فرض دی کچرې یو سړې قصدا د کلمې د محمد الرسول الله په ځائې (مخمد ) په (خاء) سره اووائی نو ددې معنی غلطیګی .

بل دا چه دا الفاظ وئیل فرض دی خاصکر په وخت د مطالبه کښې

بل دا چه هم داسې الفاظ فرض دی څنګه چه کلمه کښې مذکور دی علامه رازی رحمه الله فرمائي :

کچرې یو سړې لااله الا الرحمن اووائی .

لا اله الا السبحان اووائی .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


بلکه تول نمونه د الله ذکر کړی لیکن (الله) لفظ باندے راتلل نه وی کړی نو دے مسلمان نشی ګرزیدے .

(۲) معنی د کلمے صحیح کول څکه چه د کلمے په معنی باندے یو سړے نه پوهیګی نو هغه مؤمن نه دے .

عبدالعزیز بن باز رحمه الله فرمائی :

«وهذه الكلمة العظيمة لا تنفع قائلها ولا تخرجه من دائرة الشرك إلا إذا عرف معناها وعمل به وصدق به»

او دا عظیمه کلمه ویونکی ته څه فائده نه ورکوی او نه ئے د دائرے د شرک نه اوباسی مګر هله چه معنی باندے ځان پوهه کړی او عمل پرے اوکړی او تصدیق ئے اوکړی .

(۳) عمل په مقتضی د کلمے څکه چه دے مخکښ عبارت کښ ذکر شو «الا اذا عرف معناها وعمل به وصدق به» او کله چه عمل او قول او عقیده خرابه وی او صاحب خپل شرک کښ غورزوی نو دا عمل به د کلمے نه خلاف وی « کدعاء الاموات والملائکة والاصنام والاشجار والاحجار والنجوم ونحو ذالک ...... والذبح لهم والنذر والسجود لهم وغیره ذالک »

لکه سوال کول شو د مړو نه یا د ملائکو یا د درګاهونو ، یا د ونو بوټو یا د ګټو نه یا ستورو یا داسے نور ..... او دوئی ته حلالے شوے او دوئی له نذر کول شو یا دوئی ته سجده کول شو .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۴) استقامة په دے کلمه فرض دے فرمائی عبدالعزیز بن باز رحمه الله : ومتی وجد من المسلم معناها والاستقامة علیه فهو مسلم حرام الدم والمال .

کله چه د مسلمان نه ددے کلمے په معنی او پدے کلمے استقامت اوموندلے شو نو دے مسلمان دے او دده وینه او مال په بل مسلمان حرام دی . ( مجموع فتاوی ج ۱ ص ۲۳۲ )

ضروری سوالونه :

سوال : ستا رب څوک دے ؟

جواب : رب زما الله دے هغه الله چه زما پالونکے دے او د ټول مخلوق پالونکے دے او هم دغه الله لائق د عبادت دے ددے الله نه علاوه بل سوک د عبادت لائق نشته .

سوال : د رب معنی څه ده ؟

جواب : رب هغه ځاته وائی چه هغه مالک وی او متصرف وی په عالم کښی او مستحق د عبادت هم وی .

**شرائط دپاره د شهادت** : ان محمدا رسول الله :

(۱) اعتراف په رسالت د نبی علیه الصلاة والسلام باندے او اعتقاد ددے په زړه کښی .

(۲) په خله وئیل او اعتراف ددے په ژبه ظاهرا .

(۳) تابعداری کول او عمل کول په هغه څه چه امر ئے کړے او منع کیدل د هغه څه نه چه منع کړے ده .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۴) تصدیق په هغه څه چه خبرئے ورکړے دے .

(۵) د هر څه نه زیات محبت کول د نبی علیه الصلاة والسلام سره .

(۶) مخکښې کول وینا د نبی علیه الصلاة والسلام د هر چا په وینا باندے . ( مأخوذ من عقیدة التوحید لصالح الفوزان رحمه الله )

♣♣

# نواقض الاسلام

فی الاشعار :

اسلام له ماتونکی څو امور دی ځان خبر کړه
یو ذبحه شوه په نوم د غیر الله واوره بیان

☆☆☆

دویم چه واسطے وی الله ته جوړے کړی
ددوئی امداد غوښتل او رابلل کړی مهربان

☆☆☆

دریم چه څوک کافر ته کافر نه وائی کافر دے
یا شک کړی په مشرک چه دے .کافر که مسلمان

☆☆☆

رابع چه د اسلام نه بل نظام ته غوره وائی
یا خیال صرف دا چه اسلام کفر سویان

☆☆☆

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


پنځم چه یو عمل د پاک نبی ته دے بد ګوری
اګر که پرے عمل کړی دے کافر دے په ما ګران

☆☆☆

شپږم چه دین عقاب او په ثواب پسے خندا کړی
ایمان ترے ختم شوے ګر که ډیر لولی قرآن

☆☆☆

ووم سحر ازده کول چه جائز غوره ورته وائی
دا کار د مسلم نه دے بلکه کار دے د شیطان

☆☆☆

اتم امداد د کفر مقابل کښی د اسلام
کافر پدے عمل شی ګر که پیر وی د زمان

☆☆☆

نهم چه یو انسان ګنړی اوچت د اتباع
چه پیر زما کامل دے حاجت نشته د قرآن

☆☆☆

لسم مخ اړول اعراض کول د دین اسلام
اکراه نه علاوه پرے کافر کیږی مسلمان

(۸ ذی قعده بعد صلوٰة الجمعة)

نواقض د اسلام لس دی لکه اجمال په شعر کښی ذکر شو .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۱) شرک کول شو د الله سره په عبادت کښې او ددینه لکه مړی رابلل او امداد طلب کول د مړو نه ، او نـذر او ذبـح پـه نـوم د غیـر الله وغیره .

(۲) من جعل بینه وبین الله وسائط یـدعوهم ویسـألهم الشـفاعة ویتوکل علیهم فقد کفر إجماعا .

(۳) من لم یکفّر المشرکین أو شك في کفرهم أو صحح مذهبهم کفر

(۴) چه د اسلام نه علاوه بل نظام ته خه ګوری او یـا دا وائـی چـه اسلام او کفر یو شے دے .

(۵) چه یو سنت د نبی علیه السلام ته بـد ګـوری اګـر کـه پـرے عمل هم کوی خو دا انسان کافر دے .

الله فرمائی : ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنْزَلَ اللَّـهُ فَـأَحْبَطَ أَعْمَـالَهُمْ . (محمد ۹)

(۶) چه ددین ثواب یا عذاب پسے خندا کوی دا انسـان هـم کـافر دے .

الله فرمائی : قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ , لَا تَعْتَـذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ . (التوبة الایتان ۶۵ ، ۶۶ )

(۷) ازده کول د جادو چه جائز او غوره ورته وائی چا چـه اوکـړو اویا پرے خوک راضی وی نو دا انسان کافر دے .

الله فرمـائی : وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ . ( البقرة ۱۰۲)

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۸) په ډله د مشرکانو کښې شامليدل يا د کفر امداد کول په مقابله د مسلمانانو کښې دا انسان هم کافر دے .

الله فرمائی : وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ . ( المائده ۵۱ )

(۹) چه يو انسان اوچت ګڼړی په اتباع د نبی عليه الصلاة والسلام باندے نو دا انسان هم کافر دے .

الله فرمائی : وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِين . ( العمرآن ۸۵)

(۱۰) مخ اړول د الله ددين نه چه نه ئے زده کوی او نه پرے عمل کوی نو دا انسان کافر دے .

الله فرمائی : وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ . ( السجده ۲۲)

( مجموع فتاوی للعلامه ابن باز ج ۱ ص ۱۶۲ )

سوال (۳) ايمان څه ته وائی؟

الجواب : أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره .

(۱) تصديق کول په الله (۲) تصديق کول په ملائکو (۳) تصديق په کتابونو (۴) تصديق د رسولانو (۵) تصديق ئے وی په قيامت (۶) تصديق ئے وی په تقدير باندے ، نو دا کس مؤمن دے .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔



## تفصیل :

### مطلب د ایمان په الله :

مونږ وایو (۱) الله یو دے (۲) الله پاک دے .

اوس مطلب د یو والی څه دے ؟

(۱) الله په وجود کښې یو دے (۲) پیدا کولو د مخلوق کښې یو دے (۳) په نظام چلولو کښې یو دے (۴) په عبادت کښې یو دے (۵) الله په نومونو او صفتونو کښې یو دے .

### او الله پاک دے :

(۱) الله پاک دے د شریک فی الوجود نه (۲) الله پاک دے د شریک فی الخالقیت نه (۳) الله پاک دے د شریک فی التصرف نه (۴) الله پاک دے د شریک فی العبودیت نه (۵) الله پاک دے د شریک فی الذات والصفات نه .

اوس چه څوک الله یو نه مني په وجود کښې نو الله ئے پاک ونه ګڼړلو نو شرک فی الوجود ئے اوکړو یا ورسره خالق بل ګڼړی نو شرک فی الخالقیت ئے اوکړو الله ئے پاک ونه ګڼړلو دارنګ شرک فی التدبیر والتصرف او فی العبادة او فی الاسماء والصفات .

سوال : توحید څه ته وائی ؟

جواب: توحید په لغت کښې په دریو معنو راځی :

(۱) : جعل الشيء واحدًا .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔



(۲) : الحكم على الشيء بأنه واحد .

(۳) : العلم والاعتقاد بأن هذا الشيء واحد.

اصطلاح کښې : الاعتقاد والشهادة بأن الله سبحانه وتعالى منفرد بذاتــه وصفاته وربوبيته وإلهيته ، وعبادته ، لا شريك له في ذلك كله .

(جهود علماء الحنفية في ابطال عقائد القبورية ص ۷۷ )

بل تعريف پښتو کښې : يواځې والے د الله په پيدا كولو كښې او په تدبير كښې ، او عبادت صرف د يو الله او پريښودل عبادت د غير الله ، او اثبات د اسماء حسنى الله لره او اوچت صفات ، او پاک کنړل الله د نقص او د غيب نه .

او دا تعريف شامل دے درے قسمه د توحيد تـه : (۱) توحيـد فـى الربوبية (۲) توحيد فى الالوهية (۳) توحيد فى الاسماء والصفات

( الموسوعة هل يستوى الذين يعلمون والذين لا يعلمون العقيدة ص ۴ )

او الله رب العزت دا درے واړه قسمونه د توحيد پـه دے آيـت كښې ذكر كړى دى :

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيّاً . مريم۶۵ .

او نور تعريفات هم عالمانو ذكر كړى دى :

لکه د ابن سريج رحمه الله نه تپوس اوشو چه توحيد څه شے دے ؟

نو جواب ئے ورکـړو: توحيد أهل العلم وجماعة المسلمين أشهد أن لا إله إلا الله ، وأشهد أن محمداً رسول الله .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


بعض عالمان ذکر کوی چه توحید وائی :

إفراد الله سبحانه وتعالى بما يختص به .

( التعليقات على كشف الشبهات ص۲ )

دارنګ تپوس اوشو د علامه ابی الحسن البوشنجی رحمه الله نه چه توحید څه شے دے ؟

جواب ئے ورکړو چه : إن تعلم أنه غير مشبه بالذوات ولا بنفي الصفات . ( الانصاف للباقلانی ص ۸ )

سوال : اصول دِ توحید کم کم دی؟

جواب : درے دی : (۱) پیژندل د رب (۲) پیژندل د دین (۳) پیژندل د پیغمبر .

سوال : ارکان د توحید څو دی ؟

جواب : درے دی : اسلام ، ایمان ، احسان .

( الاجوبة المفيدة لمهمات العقيدة )

سوال : اقسام د توحید څو دی مختصر ؟

جواب : اقسام د توحید مختصر درے دی : (۱) توحید الالوهية (۲) توحید الربوبية (۳) توحید الاسماء والصفات .

سوال : توحید فی الاسماء والصفات څه ته وائی ؟

جواب : توحید فی الاسماء والصفات دیته وائی چه موصوف کړے شی الله په ټولو هغه صفتونو چه ځان ئے پرے موصوف کړے په خپل

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


کتاب کښی یا پړے موصوف کړے شوے په احادیثو د نبی علیه السلام کښی په هغه طریقه باندے چه لائق دی د الله د ذات سره

سوال : ارکان د ایمان په اسماء حسنی څو دی ؟

جواب : ثلاثة الإيمان بالاسم وبما دل عليه من المعنى وبما تعلق به من الآثار فنؤمن بأنه رحيم ذو رحمة وسعت كل شيء. قدير ذو قدرة ويقدر على كل شيء عليم ذو علم ويعلم كل شيء غفور ذو مغفرة ويغفر لعباده .

(۱) یو ایمان په هغه اسم فرض دے چه دا د الله نوم او صفت دے

(۲) ایمان په هغه معنی چه دا اسم پړے دلالت کوی .

(۳) د دے اسم چه کوم اثار متعلق دی په هغی ایمان لرل .

سوال : څه فرق دے په ما بین د توحید د ربوبیت او د توحید د الوهیت کښی ؟

جواب : توحید د ربوبیت دا فعل د رب دے لکه پیدا کول ، ژوندی کول ، مړه کول ، راورول د باران الخ .

توحید الوهیت دا فعل د بنده دے لکه : الدعاء والخوف والرجاء والتوكل والإنابه والرغبه والرهبه والنذر والإستغاثه وغير ذلك من انواع العبادات .

دعا غوښتل ، یره کول ، طمع ساتل ، په الله توکل کول ، د الله تابعداری کول ، یره کول د الله نه ، مینه کول د الله سره ، نذر د الله په نوم ، امداد غوښتل د الله نه ، او ددینه علاوه نور انواع د عباداتو .

ددے نه علاوه نور فرقونه هم شته لکه :

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



(۱) فرق په اعتبار د اشتقاق سره : چه توحید الربوبیة دا مشتق دے د اسم د الله نه چه «الرب» دے او هر چه توحید فی الالوهیة دے نو دا مشتق دے د لفظ «الاله» نه .

(۲) دوّیم فرق په اعتبار د متعلق سره : چه متعلق د ربوبیة امور تکوینی دی لکه خلق شو او رزق شو الخ ، او متعلق د الوهیت هغه امور شرعیه دی چه اوامر او نواهی دی .

(۳) فرق په اعتبار د اقرار سره : چه په توحید فی الربوبیة پدے مشرکانو اقرار کړے وو او توحید فی الالوهیت ددے نه ئے انکار کړے وو .

(۴) فرق په اعتبار د مدلول سره : ربوبیة ددے مدلول علمی خبری دے ، او الوهیة ددے مدلول عملی دے .

(۵) فرق د حیثیت د التزام او تضمن نه : توحید د ربوبیت دا مستلزم او متضمن دے توحید د الوهیت سره او توحید د الوهیت دا متضمن دے توحید د ربوبیة لره .

(۶) فرق من حیث الحکم : چا چه اقرار اوکړو صرف په توحید د ربوبیة فقط نو دا اقرار انسان په اسلام کښ نه داخلوی ، او چاچه اقرار اوکړو په توحید د الوهیت فقط نو دا داخلوی انسان په اسلام کښ .

(۷) فرق د حیثیت د معنی نه : توحید د ربوبیت دا توحید د الله تعالی دے په خپلو افعالو کښ او توحید فی الالوهیت دا توحید د الله تعالی دے په افعالو د بندیګانو کښ .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



( تيسير الاصول الى معرفة الثلاثة الاصول ص ۶۲ )

## ثمرات د ايمان په الله باند ے :

(۱) پوره امن او پوره هدايت لكه الله فرمائی :

الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُوْلَئِكَ لَهُمْ الأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ (الأنعام: ۸۲).

(۲) ايمان په الله تعالى باند ے دا طاعت د الله د ے : لكه الله فرمائی : قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْــرَاهِيمَ وَإِسْـمَاعِيلَ وَإِسْـحَقَ وَيَعْقُوبَ وَالأَسْبَاطِ . (البقرة: ۱۳۶) .

(۳) خلافت په زمكه كښ او عزة ، الله فرمائی :

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمْ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً . (النور: ۵۵) .

(۴) دننه كيدل جنت ته او نجات د اور نه ، الله فرمائی : إِنَّ اللَّــهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ . (محمد: ۱۲)

(۵) خائسته ژوند ، الله فرمائی : مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً . (النحل: ۹۷) .

(۶) نزول البركات ، الله فرمائی : وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُــوا وَاتَّقَــوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنْ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِـنْ السَّـمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ . (الأعراف: ۹۶) .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۷) الهداية لكل خير ، الله فرمائى : وَمَنْ يُـؤْمِنْ بِاللَّـهِ يَهْـدِ قَلْبَـهُ .
(التغابن: ۱۱) .

(۸) زیادت د ایمان او کلک والے پـه هغـی بانـدے : الله فرمـائی :
وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ .(محمد: ۱۷).

(۹) کامیاب والے پہ دوستئ د الله تعالی : الله فرمائی : ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ
مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لا مَوْلَى لَهُمْ (۱۱)
(محمد: ۱۱) .

(۱۰) بچ والے د تاوان نه : الله فرمائی : وَالْعَصْرِ (۱) إِنَّ الإِنسَانَ لَفِـي
خُسْرٍ (۲) إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَـوْا
بِالصَّبْرِ (۳) ] (العصر: ۱_۳).

(۱۱) ایمان په الله باندے سبب دے د دفاع :
إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنْ الَّذِينَ آمَنُوا . (الحج: ۳۸) .

(۱۲) ایمان په الله باندے سبب دے د معـاف کیـدلو د گنـاهونو :
الله فرمـائی : وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُـزِّلَ عَلَـى
مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ . (محمد:۲)

(۱۳) ایمان په الله سبب دے د اوچت والی ـ الله فرمائی : يَرْفَعْ اللَّهُ
الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ . (المجادلة: ۱۱) .

(۱۴) ایمان په الله سبب دے دپاره د اخلاص په عمل کښ .

(۱۵) ایمان په الله باندے سبب دے د مضبوط والی په توکل کښ
ـ الله فرمائی : وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ.
(الطلاق: ۳)

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



(۱۶) ایمان په الله سبب دے دپاره د شجاعت څکه زړه د مؤمن ډک وی د یرے د الله نه او د خشیة د الله نه او د تعظیم د الله نه او چه کم زړه داسے وی نو یره د مخلوق هغه زړه کښې نه وی .

(۱۷) ایمان سبب د حسن الخلق دے کله چه ایمان کمزورے شی نو اثر د هغې په اخلاقو کښې ښکاره شی د وجې د لږے والی د ایمان نه .

(۱۸) ایمان سبب د اوچتولو د درنو احکاماتو دے او د طاعاتو دے .

(۱۹) ایمان سبب د ذکر نیک دے دپاره د انسان .

(۲۰) ایمان سبب د عزت د نفس دے .

(۲۱) ایمان سبب دے دپاره د جهاد بدنی او مالی او قولی په لاره د الله کښې . ( الایمان بالله ص ۲۲ تا ۲۴)

## د شرک اقسام

سوال : شرک څو قسمه دے ؟

جواب : شرک پنځه قسمه دے ( په یو اعتبار سره ):

(۱) شرک فی الوجود (۲) شرک فی الخالقیت (۳) شرک فی التدبیر والتصرف (۴) شرک فی العبودیة (۵) شرک فی الاسماء والصفات .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



# په ملائکو ایمان

سوال : ایمان په ملائکو څه مطلب ؟

جواب : ایمان په ملائکو دادے : (۱) چه ملائک موجود دی (۲) مخلوق دی (۳) پیدا دی د نور نه (۴) د الله تابعدار دی (۵) د هر قسم گناه نه پاک دی (۶) ملائک نه مذکر دی نه مؤنث لا یوصف باالذکورة والانوثة .

سوال : د ملائکو یو څو نومونه او د هغوئی کارونه بیان کړئی ؟

جواب : (۱) جبریل امین به وحی راوړه مقرر دے (۲) عزرائیل په روحونو مقرر دے (۳) اسرافیل علیه السلام د شپیلئ وهلو دپاره مقرر دے (۴) او میکائیل علیه السلام په بارانونو مقرر دے (۵) او په اوګو مقرر دے کراما کاتبین دی (۶) جنت کښ رضوان ملائک دی (۷) او په دینی مجلسونو مقرر ملائک سیاحین دی (۸) او په قبر کښ سوال والا ملائک نکیر منکر دی انشاء الله تفصیل به روستو کوو .

سوال : نور ملائک څومره دی ؟

جواب : وما یعلم جنود ربک الا هو ـ ترجمه او نه پوهیګی په لښکرو د رب ستا مګر دا الله .

# ایمان په کتابونو باندے :

سوال : دنیا ته څومره کتابونه راغلی دی ؟

جواب : الله رب العزت دنیا ته سل (۱۰۰) صحیفے او څلور (۴) کتابونه رالیګلی دی .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


سوال : بدے باندے څرنګه ایمان فرض دے ؟

جواب : جواب کښ تفصیل دے :

(۱) په یولو باندے ایمان فرض دے .

(۲) په خپل دور کښ په هغی کښ پوره هدایت وو .

(۳) هغه کتابونه د قرآن نزول سره منسوخ شوی دی او عمل پرے نشی کیدے .

څلور پکښ لوئے کتابونه وو : (۱) توراة (۲) زبور (۳) انجیل (۴) قرآن مجید .

سوال : زبور په چا نازل شوے ؟

جواب: زبور په داؤد علیه السلام باندے نازل شوے وو .

سوال : توراة په چا نازل شوے ؟

جواب : توراة په موسی علیه السلام نازل شوے وو .

سوال : انجیل په چا نازل شوے ؟

جواب : انجیل په عیسی علیه السلام نازل شوے وو .

سوال : قرآن په چا نازل شوے دے ؟

جواب : قرآن مجید په محمد صلی الله علیه وسلم باندے نازل شوے وو .

سوال:صحیفے څومره نازلے شوے وے او په چا نازلے شوے وے ؟

جواب : سل صحیفے دی ، ملا علی القاری رحمه الله ذکر کوی : لس (۱۰) په آدم علیه الصلاة والسلام ، لس (۱۰) په ابراهیم علیه

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


السلام ، پنځوس (۵۰) په شیس علیه الصلاة والسلام ، دیرش (۳۰) په ادریس علیه الصلاة والسلام .

نو دا ټولے سل صحیفے شوے ، لیکن دا قرآنی خبره نه ده .

نور چه کم څلور قرآن ذکر کړی دی نو په هغی کښې شک کول کفر دے .

## د قرآن الکریم متعلق عقیده :

سوال : د قرآن مجید متعلق څه عقیده ساتل پکار دی ؟

جواب : (۱) چه قرآن کلام الله دے کما قال الله تعالی حتی یسمع کلام الله (۲) په لوح محفوظ کښې محفوظ دے (۳) په صحیفو کښې مکتوب دے قال الله تبارک وتعالی فی صحف مکرمة (۴) ګنده لاسونه هغی ته نشی رسیدے قال الله تبارک وتعالی فی سورة الواقعه : لایمسه الا المطهرون (۵) قرآن نه منسوخ کیږی (۶) قرآن د تغیر او بدلون نه پاک دے (۷) قرآن آخری کتاب دے (۸) جبرائیل علیه الصلاة والسلام نبی علیه الصلاة والسلام ته راوړے دے (۹) اول شروع ئے په رمضان کښې شوے ده (۱۰) دیرش (۳۰) پاری دی (۱۱) ۱۱۴ سورتونه دی (۱۲) قرآن هدایت دے دپاره د انسانانو او پیریانو .

## د انبیاء متعلق :

سوال : انبیاء کرام ټول څومره دی ؟

جواب : الله رب العزت ایک لاکھ چوبیس هزار ( کم یا زیات ) انبیاء رالیګلی دی .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


سوال : په پیغمبرانو د ایمان راوړلو څه حکم دے ؟

جواب : په پیغمبرانو باندے ایمان راوړل فرض دی .

سوال : په قرآن کریم کښې څومره انبیاء ذکر شوی ؟

جواب: په قرآن کښې پنځویشت (۲۵) انبیاء ذکردی .

سوال : په یو لاکھ چوبیس هزار کښې رسولان څومره وو ؟

جواب : په ایک لاکھ چوبیس هزار کښې ۳۱۵ رسوٗلان تیر شوی دی .

سوال : د کمو انبیاء نومونه چه مونږ نه پیژنو په هغوئی به څرنګه ایمان راوړو ؟

جواب : زمونږ به دا عقیده وی چه اے الله کوم استازی تا رالیګلی دی که مونږ ته معلوم دی او که معلوم نه دی نو په هغه ټولو باندے زمونږ ایمان دے .

سوال : په قرآن کریم کښې د څومره انبیاء نومونه ذکر شوی دی ؟

جواب : په قرآن کښې چه کم انبیاء ذکر دی نو هغه پنځویشت (۲۵) دی .

سوال : هغه ۲۵ انبیاء کم کم دی ؟

جواب : هغه نومونه دادی په اشعارو کښې :

اشعار

قرآن کښې انبیاء پوره ۲۵ دی ذکر شوی
آدم هود او ادریس دی بل داؤد دے ذوالبیان

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


☆

یوسف یعقوب اسحاق بل اسماعیل علیه السلام
اولاد د ابراهیم دے چه هر چاته دے عیان

☆

یونس یسع ذوالکفل بل موسی عیسی یحي
مذکور دی زکریا بل شعیب او سلیمان

☆

بل نوح ایوب صالح لوط اوهارون دی ذکرشوی
الیاس دے په آخر کښې محمد دے عالیشان

☆☆☆

سوال : په کومو خبرو کښې ټول انبیاء شریک دی ؟

الجواب : ټول انبیاء په نسو خبرو کښې شریک دی د هغې اجمال په اشعارو کښې دا دے :

اشعار

توحید تصدیق طاعة او بشارة کښې واړه یو دی
بشر رجال اکمل د ګناهونو معصومان

♣

صفات د خدائتوب پدوئی کښې نشته بندیګان دی
ناشنا عجیب کارونه معجزات دی مهربان

وضاحت ددے شعرونو :

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


(۱) ټول انبیاء پـه توحیـد راغلـی وو (۲) تصـدیق د ټولـو انبیـاء فرض دے (۳) ددوئی طاعة فرض دے پـه خپـل امـت او دا امـة بـه هـم مخکښ انبیاء منی (۴) ټول انبیاء په بشارت او تنذیر راغلی دی (۵) ټـول انبیاء بشر وو انسـانان وو (۶) انبیـاء رجـال وو ښـځی پیغمبـرانے نـه دی راغلی (۷) اکمل الخلق وو انبیاء (۸) انبیاء معصوم دی د ګناهونو نه کـه صغائر دی او که کبائر دی (۹) انبیاء کښ د الوهیة صفات نـه وو (۱۰) ناشنا کارونه چه ترے صادر شوی وو نو هغه معجزات وو د الله د طرفنه.

قرآن په دے ټولو دلائیل ذکر کوی :

اوله عقیده : ټول انبیاء په توحید راغلی وو دلیل سورة انبیـاء ۲۵: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ.

دویمه عقیده : تصدیق د ټولو انبیاء فرض دے دلیـل سـورة النسـاء ۱۵۰ : إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَـيْنَ اللَّـهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَـيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا.

دریمه عقیده : طاعة د انبیاء فرض دے دلیل سورة النساء ۸۵: مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا.

څلورمه عقیده : ټول انبیاء په بشارت او تنذیر راغلـی دلیـل سـورة انعـام ۴۸: وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔



پنځمه عقیده : ټول انبیاء بشر وو دلیل سورة الکهف ۱۱۰ : قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا .

شپږمه عقیده : ټول انبیاء رجال وو دلیل سورة الانبیاء ۷ : وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ.

اوومه عقیده اکمل الخلق وو او اتمه عقیده معصوم وو دلیل سورة مریم : وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا (۵٤) وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا (۵۵) .

او بیا د ټولو پاکوالے بیانوی انهم کانوا یسارعون فی الخیرات ، ویدعوننا رغبا ورهبا الایة .

## والیوم الاخر :

سوال : په آخرت باندے څرنګه ایمان راوړل پکار دی ؟

جواب : په آخرت باندے یو څو قسمه ایمان راوړل پکار دی ، اجمال په اشعارو کښې :

په ورځ د آخـرت باندے ایمان اجـمالی
دا فرض دے طالبه ورنه نه دے مسلمان

☆

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


تفصیل سره چه کوم حدیث قرآن دی ذکر کړی
ایمان پرے هغه شان لازمی په هر انسان

☆

په قبر کښ تپوس د ملکینو هم ثابت دے
نعمت او عذاب حق دے رونړو ګران دے امتحان

☆☆☆

وضاحت د شعرونو :

په ورخ د آخرت باندے ایمان فرض دے .

په آخرت باندے ایمان باره کښ دولس (۱۲) خبرے دی :

(۱) د قبر سوال جواب دا د آخرت ابتداء ده دا حق دی.

(۲) په قبر کښ عذاب او نعمت دا حق دی .

(۳) د قیامت علامات او نخی که واړه دی او که غټ دا حق دی.

(۴) بعث بعد الموت دا حق دے .

(۵) د پاسیدو نه بعد د خلقو یو ځائے ته جمع کیدل دا حق دی .

(۶) د عمل نامه تقسیم حق دے نیک بختو ته په خی لاس باندے او بد بختو ته په ګس لاس باندے ملاویدل .

(۷) حساب کتاب کیدل دا حق دی .

(۸) اعمال تلل حق دی .

(۹) په حوض کوثر باندے اوبه څکل حق دی .

(۱۰) پل صراط باندے ایمان حق دے .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


(۱۱) شفاعت د انبیاء او صالحینو حق دے .

(۱۲) جنت مقام د نیکانو دے او جهنم د کافرانو دے، د حق دی.

سوال : یو څو علامات د قیامت بیان کړئ ؟

جواب : علامات د قیامت دادی :

(۱) جهل به زیات شی .

(۲) علم به اوچت شی .

(۳) فتنی به زیاتے شی .

(۴) زمانه به لنډه شی .

(۵) قتلونه به زیات شی .

(۶) مال به زیات شی .

(۷) زنانه به عامے شی .

(۸) نا اهله به مشران شی .

(۹) خلق به ابادو کښې مقابلے شروع کړی .

(۱۰) په دیندارو خلقو به داسے فتنے راشی چه په یو قبر بانـدے بـه تیریګی او ارمان به کوی چه زه پدے قبر کښې وے .

سوال : د قیامت غټ علامات بیان کړئی ؟

جواب : غټ علامات دادی :

(۱) نمر به د مغرب نه راښکاره شی (۲) خروج الدابة (۳) خروج الدجال (۴) نزول د عیسی علیه الصلاة والسلام په وخت د مـازیګر کښې (۵) اتهان د یاجوج او ماجوج .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


## ونؤمن بالقدر خيره وشره :

سوال : د تقدير څو مراتب دی ؟

جواب : د تقدير دپاره څلور مراتب دی :

(١) مرتبه : العلم - پدے به دے ایمان وی چه الله تعالی په هر څه باندے عالم دے علم د ما کان دے ورسره او د ما یکون او علم ازلی ابدی دے او نسیان پرے نه راځی .

(٢) مرتبه : کتابة - پدے به دے ایمان وی چه الله تعالی هر څه د خپل ځان سره لیکلی دی په لوح محفوظ کښ او دا به باقی وی تر ورځے د قیامة پورے .

(٣) مرتبه : المشیئة - پدے به دے ایمان وی چه الله تعالی په اسمانونو زمکو کښ چه څه اوغواړی نو کوی یو شئے هم بغیر د مشیئت د الله نه نه کیږی څه چه اوغواړی نو کوی او چه نه غواړی نو نه کیږی .

(٤) مرتبه : الخلق - پدے به دے ایمان وی چه هر څه الله پیدا کړی دی .

( مأخوذ من عقيدة اهل السنة والجماعة ص ١٧ للعلامه صالح العثيمين رحمه الله )

## ددینه علاوه نور ضروری سوالونه :

سوال : ستا دین څه دے ؟

جواب : زما دین اسلام دے او اسلام غاړه کیښودلو ته وائی او تابعداری صرف یو الله ته دلیل الله کریم په سورة العمرآن کښ فرمائی :

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلَامُ [آل عمران:١٩].

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


سوال : ددے دین بنا په څه باندے ده ؟

جواب : ددے دین بنا په پنځو ارکانو بانـدے ده (۱) ګواهی د لا اله الا الله محمد الرسول الله (۲) مونځ قائمول (۳) زکـواة ورکـول (۴) یو میاشت روژے نیول د رمضان المبارک (۵) حج کول د بیت الله .

سوال : ایمان څه دے ؟

جـواب : أن تؤمن بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الأخر وتؤمن بالقــدر خیره وشره .

دلیل الله فرمائی : آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ [البقرة:۸۵] .

سوال : ستا نبی څوک دے ؟

جواب : نبی زما محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم ، هاشم د قریشـو د خانـدان نـه وو او قـریش د بنـو کنانـه نـه وو ، او کنانـه او سیدونکی د عـرب وو ، او عـرب د اولاد د اسماعیل بـن ابـراهیم علیـه الصلاة والسلام نه وو ، او ابراهیم د اولاد د نوح علیه الصلاة والسلام نه وو .

سوال : وبأي شيء نُبئ؟ وبأي شيء أرسل ، پـه کـوم شـی سـره دے نبی ګرزیدلے او په کوم لفظ سره رسول ګرزیدلے ؟

جـواب : نُبئ باقرأ، وأرسل بالمدثر ـ نبـوت پـه اقـرأ ټکـی سـره ، او رسالت په المدثر سره ملاو شوے دے .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔



**سوال : پدے څه دلیل دے چه محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دے ؟**

الجواب : وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ (آل عمران: ۱٤٤).

دویم دلیل : مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً (الفتح: ۲۹) .

**سوال : څه دلیل دے په دے باندے چه انبیاء الله تعالی د هدایت د انسانانو دپاره رالیګلی دی او دوئی تابعداری د هواهشاتو نه کړی او د خپل ځان نه خبرے نه کوی ؟**

الجواب : پدے ډیر دلائیل دی بعض د هغی نه دادی :

(۱) انبیاء لره داسے معجزات ورکول چه عام انسانان د هغی د مثل د اتیان نه عاجز دی .

(۲) امداد د انبیاء په مقابله د دشمنانو کښې .

(۳) دوئی خبر ورکونکی وی د طرفه د الله نه چه دا کار به داسے کیږی او دا خبره محال ده چه الله هغه څوک مضبوط کړی چه دروغ وائی په الله باندے . ( اسئلة بريد الفتاوی )

**سوال : نبی علیه الصلاة والسلام د څومره عمر وو چه پیغمبری ورته ملاؤ شوه ؟**

الجواب : نبی علیه الصلاة والسلام د څلویښتو (۴۰) کالو وو چه وحی نازل شوه .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


سوال : د وحی نه څه مراد دی ؟

الجواب : د وحی نه مراد دا چه الله تعالی خپل احکام او خپل کلام نبی علیه الصلاة والسلام ته ورکول شروع کړل .

سوال : د وحی نازلیدلو نه بعد څومره وخت نبی علیه الصلاة والسلام ژوندے وو ؟

الجواب : درویش ۲۳ کاله دیارلس (۱۳) کاله مکه کښ او لس (۱۰) کاله مدینه کښ تیر کړی وو .

سوال : نبی علیه الصلاة والسلام چرته وفات شوے وو او څومره عمرئے وو ؟

الجواب : نبی علیه الصلاة والسلام په مدینه کښ وفات شوے وو او د نبی علیه الصلاة والسلام دغه وخت کښ درے شپیته (۶۳) کاله عمر وو .

سوال:د عبادت د قبلیدو په دربار د الله کښ څه شرطونه دی ؟

الجواب : دوه شرطونه دی : (۱) چه خالص د الله د رضا دپاره وی (۲) چه موافق وی د طریقی د نبی علیه الصلاة والسلام سره .

سوال : کم قسمونه د عباداتو دی چه د الله نه علاوه بل چا دپاره جائز نه دی ؟

الجواب : من انواعها: الدعاء، والإستغاثة، والإستعانة، وذبح القربان، والنذر، والخوف، والرجاء، والتوكل، والإنابة، والمحبة، والخشية، والرغبة، والرهبة،

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


والتأله، والركوع، والسجود، والخشوع، والتذلل، والتعظيم الذي هو من خصائص الألوهية .

حاصل دادے : هغه قسمونه چه د الله نه علاوه د بل چا نه غوښتل پکار نه دی : لکه دعا غوښتل ، فریاد کول ، امداد غوښتل ، حلاله دپاره د نزدیکت کول ، نذر کول ، یره کول ، طمع ساتل ، عاجزی کول ، مینه کول ، یره کول ، د زړه نه رغبت او رهبت او تأله چه دا خاص قسم مینه او یره او عاجزی ده الله له کول ، رکوع ، سجده ، او هغه تعظیم چه د خصائصو د الوهیت نه دے خاص الله له کول .

سوال : کم یو څیز الله په مونږ باندے اول فرض کړے دے ؟

الجواب : کفر بالطاعوت او ایمان په الله باندے .

سوال : طاعوت څه شے دے ؟

الجواب :د طاعوت مصداقات ډیر دی خو غټ قسمونه پنځه دی:

(۱) ابلیس لعنه الله (۲) د چاچه عبادت کیدیشی او هغه پرے راضی وی (۳) او هغه څوک چه خپل عبادت ته خلق رابلی (۴) او هغه څوک چه د علم غیب دعوه اوکړی (۵) او هغه څوک چه فیصله کوی بغیر د کتاب د الله نه .

سوال : کفر څه ته وائی :

الجواب : په کومو څیزونو چه ایمان راوړل لازم دی د هغی نه د یو شی انکار کولو ته کفر وائی .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔


مثلا : څوک د الله نه انکار اوکړی ، یا د الله پاک د صفاتو نه انکار اوکړی ، یا د الله په کتابونو کښې د یو کتاب نه انکار اوکړی ، یا د ملائکو نه انکار اوکړی ، یا د یو پیغمبر نه انکار اوکړی ، یا د تقدیر نه انکار اوکړی ، یا د قیامت د ورځے نه انکار اوکړی ، یا د الله تعالی د قطعی احکامو کښې د یو حکم نه انکار اوکړی ، یا د نبی علیه الصلاة والسلام یو خبرے ته د دروغو نسبت اوکړی نو په دے صورتونو کښې انسان کافر کیږی .

سوال : د کفر اقسام څه دی ؟

الجواب : کفر په دوه قسمه دے : یو قسم هغه کفر دے چه انسان د مسلمانئ نه اوباسی اودا په پنځه قسمه دے :

(۱) کفر التکذیب یعنی شریعت ته د دروغو نسبت کول .

(۲) کفر الاستکبار والاباء مع التصدیق کفر د ځان غټ ګنړلو او انکار کولو سره د تصدیق نه .

(۳) کفر الشک کفر د شک .

(۴) کفر الاعراض کفر د مخ اړولو .

(۵) کفر النفاق او کفر د منافقت .

**دویم قسم** : هغه کفر دے چه انسان د اسلام نه نه اوباسی او هغه یو قسم دے : کفر النعمة . ( خمسون سؤالا )

سوال : شرک څه ته وائی ؟

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


الجواب : شرک دیته وائی چه د الله تعالی سره په ذات یا صفاتو کښې بل څوک شریک گڼړل .

سوال : د الله تعالی سره په ذات کښې د شریک څه معنی ده ؟

الجواب : په ذات کښې د شریک معنی داده چه دوه یا درے خدایان او منی لکه عیسایان د درے خدایانو د منلو د وجې نه مشرکان دی او آتش پرست د دوو خدایانو د منلو د وجې نه مشرکان دی او هندوان چه د ډیرو خدایانو د منلو د وجې نه مشرکان دی .

سوال : د الله سره په صفاتو کښې د شریک څه معنی ده ؟

الجواب : د الله د صفاتو نه یو صفت بل چا لره ثابتول دا شرک دے . او ددے بیا ډیر قسمونه دی :

(۱) شرک في القدرت : یعنی د الله پشان قدرت د بل چا دپاره ثابتول مثلا دا وئیل چه فلانکے پیغمبر یا شهید یا ولی باران راوروی یا نفع او ضرر باندے قادر دے دا شرک دے .

(۲) شرک في العلم : یعنی د الله پشان د بل چا دپاره علم ثابتول مثلا چه د الله نه علاوه فلانے پیغمبر یا ولی په غیب باندے پوهیګی یا د الله پشان د ذرے ذرے علم دوئی دپاره شته یا زمونږ د حالاتو نه خبر دار دی یا د لرے او نزدے خیزونو نه خبریګی دا تول شرک في العلم دے .

(۳) شرک في السمع والبصر : یعنی د الله د صفت پشان اوریدلو او لیدلو کښې بل څوک شریکول دا شرک دے . مثلا دا عقیده لرل چه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


فلانے پیغمبر یا ولی زمونږ ټولے خبرے د لرے یا نزدے نه اوری یا زمونږ کارونو ته د هر ځائے نه ګوری دا ټول شرک دے .

(۴) شرک فی الحکم : یعنی د الله تعالی پشان بل څوک حاکم ګنړل او د هغه حکم د الله د حکم پشان ګنړل ، مثلا پیر صاحب دا وئیلی دی چه فلانئ وظیفه د مازیګر د مونځ نه مخکښ لوله او د هغه د حکم داسے تعمیل کول چه د مازیګر د مونځ وقت مکروه کیدو پرواه نه وی نو دا هم شرک دے .

(۵) شرک فی العبادت : یعنی د الله پشان بل څوک د عبادت مستحق ګنړل مثلا قبر یا پیر ته سجده کول ، یا چاته رکوع کول ، یا د یو پیر یا پیغمبر یا ولی یا امام په نوم روژه نیول یا د چا نذر کول ، یا د یو قبر یا د یو کور داسے طواف کول لکه چه د خانه کعبے طواف کولے شی وغیره دا ټول شرک دے .

سوال : د الله نه علاوه بل څوک په غیبو باندے پوهیګی او کنه ؟

الجواب : نه د الله نه علاوه بل څوک به غیبو (پټو) باندے نه پوهیګی ــ الله فرمائی:( لایعلم من فی السموات والارض الغیب الا الله ) .

سوال : د کفر او شرک نه بعد لویه ګناه کومه ده ؟

الجواب : د کفر او شرک نه بعد بدعت لویه ګناه ده .

سوال : بدعت څه ته وائی ؟

الجواب : بدعت هغه څیزونو ته وئیلے شی چه د هغی اصل د شریعت نه ثابت نه وی یعنی قرآن مجید او احادیث مبارکو کښ د هغی

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔


ثبوت نه وی او د نبی علیه الصلاة والسلام او صحابو کرام او تابعین او تبع تابعین په زمانه کښ د هغی وجود نه وی او هغی ته دین او وئیلے شی اوکړے شی دا کار او یا پرینبودے شی نو دا بدعت دے .

سوال : د بدعت مثال څه دے ؟

الجواب : خلقو خو په زرګونو بدعات رائج کړی دی بعض د هغی نه دادی : قبرونه پاخه جوړول ، په قبرونو باندے ګنبد جوړول ، عرسونه کول ، په قبرونو باندے ډیوے بلول ، په قبرونو څادرے اچول ، د مړی په کور باندے د خوراک دپاره جمع کیدل وغیره او هر جائز یا مستحب کار کښ داسے شرطونه لګول چه د هغی د شریعت نه ثبوت نه وی دا به بدعت وی .

(تعلیم الاسلام ص ۱۰۲ تا ۱۰۵ تالیف مفتی کفایت الله رحمه الله)

سوال: په بنده باندے څه واجب دی چه کله الله یو حکم اوکړی ؟

الجواب : په انسان باندے اووه مراتب واجب دی :

(۱) علم په هغی باندے (۲) محبت د هغی سره (۳) کلک عزم کول د هغه فعل (۴) عمل په هغه حکم (۵) پوره والے په حکم دپاره د رضاء د الله (۶) یره د هغه کار نه چه دا عمل ختموی (۷) همیشوالے په هغی باندے .

(کتبه غلام نبی بن دیارخان ۲۰۱۴،۱۰،۱۹ یوم الاحد ۱۷ : ۷ صباحا ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم)

Scanned by CamScanner